PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهی فرمان

او بې له شکه چې په څارویو کې هم تاسې ته یو لوی درس دی. مونږ تاسې ته دهغوی له ګیډونه د خوشایو او وینې ترمینځه خالصې شیدې درڅښو چې د څښونکو لپاره ډیري خوندورې او آسانې تیریږي. او په همدې توګه د خرما او انګورو له ونو نه هم تاسې نشه لرونکي او نور ښه خوراکونه جوړوئ، بې له شکه چې د عقل لرونکي قوم لپاره په دې کې لویه نښه او دلیل دي. او ستا رب د شاتو د مچی په زړه کې ورواچوله چې په غرونو، ونو او هغو لوړو او دنګو ځایونو کې چې خلک یې جوړوي ځانو ته جالي جوړې کړئ. (سورة النحل، آیت ٦٥ - ٦٨)

نبوي ارشاد

محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

تاسې رښتیا ویل پر ځان لازم وګرځوئ، ځکه رښتیا وینا انسان د نیکي په طرف بیایی او نیکي انسان جنت ته رسوي. کوم سړی چې هر وخت رښتیا وایي او د رښتیا ویلو عزم کوي، هغه د الله په نزد رښتونی لیکل کیږي، تاسې همیشه له دروغ ویلو نه ډډه کوئ ځکه چې درواغ انسان دګناه په لور بیایی یعنی دوزخ ته رسوي، کوم سړی چې همیشه دروغ وایي او دروغ ویل دهغه کسب ګرځیدلې وي هغه د الله په نزد لوی درواغجن لیکل کیږي. (بخاري، مسلم، ابو داود، ترمذي)

شهادت دویم کال، ۲۲ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د غبرګولی ۲۲ مه د۱۴۳۱ هـ ق د رجب المرجب ۴ مه د۲۰۱۰ م د جون ۱۲ مه

د مشورتي جرګې د پریکړو د تطبیق لپاره د سولې عالي شورا جوړیږي

کابل، رسنی:
د دوشنبه په ورځ د جون په ۱۴ مه ولسمشر کرزي په یوه غونډه کې وویل چې دسولې د ملي مشورتي جرګې د پریکړو تطبیق په دوام کې به د هیواد د تکړه شخصیتونو په ګډون د سولې عالي شورا جوړه کړي.
د ولسمشر کرزي مطبوعاتي دفتر په یوه اعلامیه کې ویلي چې ددې مقصد لپاره دسولې د ملي مشورتي جرګې د مشرتابه پلاوي او د هغې د اته ویشتو کمېټو د رییسانو په ګډون یې په جمهوري ریاست کې غونډه بللې وه.
په غونډه کې فیصله وشوه چې د سولې عالي شورا دې د دولت له وسله والومخالفانو سره د سولې او پخلاینې لپاره جوړه او کار دې پیل کړي.
د سولې د ملي مشورتي جرګې غړیود خپل پریکړه لیک په یوولسمه ماده کې ،چې د جرګې په پای کې یې خپره کړه، د سولې لپاره د یوې عالي شورا د جوړېدو غوښتنه کړې څو د جرګې پریکړې سمې تعقیب او عملي کړي.
د افغانستان د جمهوري ریاست مطبوعاتي دفتر ویلي دي چې د سولې د شورا د جوړولو په باب د دې غونډې د برخوالو نظرونه ټول شوي او ټاکل شوې ده چې دا شورا ژر جوړه شي.
د سولې ملي مشورتي جرګې همداراز په خپل پریکړه لیک کې له ولسمشر کرزي څخه غوښتې وو چې د طالبانو بندیان خوشي کړي او له تور لیسته د طالب مشرانو د نومونو د ایستلولپاره هلې ځلې وکړي.
ولسمشر کرزي د هغو طالب بندیانود خوشي کولو لپاره چې د توقیف په باب یې کره اسناد اوشواهد نشته ، د خوشي کولو لپاره د عدلیې وزارت ته سپارښتنې کړې او له تور لیسته د طالب مشرانو د نومونو د ایستلولپاره هم د ملګروملتو له لوري غور پیل شوی دی.

شورای امنیت در مورد حذف نامهای مخالفین دولت از لست سیاه غور میکند

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598

کابل، رسانه ها:
شورای امنیت سازمان ملل متحد در خصوص یکی از تقاضای جرگهء ملی مشورتی صلح مبنی بر حذف نام های رهبران مخالفان دولت افغانستان از لست سیاه این سازمان غور می کند.
ستیفن دیمستورا نماینده خاص سازمان ملل متحد برای افغانستان به روز شنبه در جمع از خبرنگاران در کابل ضمن ابراز این مطلب روی تطبیق مشوره های جرگهء ملی مشورتی صلح تاکید کرد.
آقای دیمستورا گفت، در حال حاضر یک هیات شورای امنیت سازمان ملل متحد در کابل حضور دارد و روی لیست سیاه کار می کند.
وی در ادامه گفت:
این کدام مسالهء پوشیده نیست، در حال حاضر یک گروه خاص از کمیته قطعنامهء ۱۲۶۷ شورای امنیت سازمان ملل متحد در کابل روی فهرست نام های برخی از افراد در لیست سیاه کار می کنند، اما با وجود این ... نمی توانیم در مورد نتایج کار این هیات پیش قضاوت کنیم زیرا این از صلاحیت های شورای امنیت است.
هر کاری که به دنبال درخواست های جرگهء ملی مشورتی صلح صورت می گیرد، نمایانگر آن است که روی این موضوع کار به صورت جدی جریان دارد ....

بقیه در صفحه ۴

تجلیل از روز شهدای گلگون کفن هشتم و چهاردهم جوزا ۱۳۵۸ در محبس پلچرخی

روز پنجشنبه مؤرخ بیستم جوزا محفل بزرگی با اشتراک وزیر صاحب اقتصاد جمهوری اسلامی افغانستان، اعضای اجرائیه و شورای رهبری حزب اسلامی، روسای دوایر، اعضای شوری علمای افغانستان، مامورین دولت، فامیل های شهدای مجاهدین و سائر مدعوئین در تالار میوند واقع شاه دو شمشیره (علیه الرحمة) انقعاد یافت. محفل با قرائت آیات مبارکه ذریعه قاری صاحب ضیاء الدین عضو شورای سرتاسری علمای افغانستان افتتاح، بعداً بیانیه عالمانه و پر محتوی در رابطه به ارزشهای جهاد، مقام شهید و دفاع از آرمانهای شهداء و دوام راه بزرگ شهدا توسط برادر محترم و مجاهد وزیر صاحب اقتصاد و رئیس حزب اسلامی افغانستان ایراد گردید. که در هر قسمت از آن با نعره های کفر شکن الله اکبر احساسات برادران ابراز میگردید.
سخنراتان هر یک محترم انجنیر محمد خان عضو شورای اجرائیه حزب و رئیس کمیسیون مواصلات، مخابرات و شاروالی ها در ولسی جرگه، محترم عبدالرزاق یکتن از اشخاصیکه در جریان قیام خونین شهدا حضور داشتند، محترم سید عمر اعزامی عضو اجرائیه حزب اسلامی و عضو اکادمی علوم افغانستان، تورن غلام سخی عضو شورای رهبری حزب اسلامی هر یک بیانات شانرا در مورد مقام والای شهدا، خدمت به بازماند گان شهدا و مبارزه بخاطر تحقق آرمان شهدا و سهم گیری فعال جوانان در این راستا ایراد فرمودند. این محفل بزرگ با سرودن ترانه ها بواسطه صهیب و قرائت اشعار با سخن گویی محترم اسدالله شاهد عضو شورای ولایت کابل و مسؤول دفتر ولسوالی پغمان و محترم منتظر شینواری عضو شورای رهبری جوانان حزب اسلامی مزین گردیده بود. محفل بساعت ۵:۳۰ دقیقه عصر همان روز با دعائیه محترم مولوی صاحب جانباز سرفراز عضو شورای اجرائیه و رئیس دعوت و تنظیم حزب اسلامی افغانستان خاتمه پذیرفت.

(دفتر شورای ولایت کابل)

وحید عمر:

د طالبانو او آی.ایس.آی د اړیکو په راپور نورو څیړنو ته اړتیا لري

کابل، رسنی:
د افغانستان حکومت وایي، ترڅو چې له افغانستان څخه بهر، د تروریزم د ځالو له مینځه وړلو ته اقدامات ونه شي، پرضد یې په هیواد کی دننه مبارزه بې ګټې ده. دا څرګندونې د دوشنبې په ورځ په کابل کې د جمهور رییس ویاند خبریالانو ته وکړې او ویې ویل، چې د برتانیې د اقتصادي ښوونځي وروستي راپور، چې د طالبانو او ای. ایس. ای اړیکو ته په کې اشاره شوې ده، یو لړ نورو څیړنو ته هم ضرورت لري.
د تروریزم د بهرنیو ریښو او پرافغانستان یې د اغیزو په هکله د روانو بحثونو په لړ کې افغان چارواکو یو ځل بیا پاکستان ته ګوته ونیوله او ویې ویل، چې په هغه هېواد کې باید د تروریزم ریښې او د هغو د تمویل منابع له مینځه ولاړې شي او که نه نو، د افغانستا ن د ننه به د تروریزم پرضد مبارزه بې ګټې وي.
د ولسمشر ویاند وحید عمر، چې د دوشنبې د ورځې په مازیګر یې د لندن د اقتصادي ښوونځي د راپور په اساس، د پاکستان د آی. ایس. آی او طالبانو اړیکو ته اشاره وکړه، ویې ویل، چې دا راپور زیاتو څیړنو ته ضرورت لري خو دا یې ومنله، چې تروریستان د هیواد له پولو څخه اخوا پټ ځایونه لري .
"د تروریستانو پټ ځایونه له افغانستان څخه بهر دي، له بده مرغه داسې سازمانونه شته چې له تروریستانو سره اړیکې لري، د دوی پرضد جګړه هغه مهال بریالۍ کیږي، چې له افغانستان څخه بهر وځپل شي ".
د لندن اقتصادي ښوونځي له خوا په یوه تازه خپور شوي راپور کې ویلي، دي، چې د پاکستان د استخباراتو اداره، له وسله والو طالبانو سره نه یوازې دا چې مرستې کوي، بلکې د هغوی د رهبرانو د تصمیم نیولو په غونډو کې ګډون هم کوي .
په دې راپور کې ویل شوي دي، چې د وسله والو طالبانو او تروریستانو ځالې په پاکستان کې دي.
خو پاکستان دا ادعا ردوي او وایي، چې د تروریزم پر ضد مبارزه کې د امریکا او نړی ملګري دي.
د جمهور رییس ویاند دا هم وویل، هڅې رواني دي، چې د افغانستان له پولو اخوا د تروریستانو ځالو ته د نړیوالې ټولنې پام را واړول شي. ....

پاتی ٤ مخ

روند حمایت در ایران و پاکستان از طالبان، رو به افزایش است

کابل، رسانه ها:
با آن که ازدیاد حملات طالبان مسلح در تابستان امسال پیش بینی می شد، اما نیروهای بین المللی مستقر در افغانستان می گویند که یکی از عوامل دیگر افزایش حملات، ازدیاد حمایت ها از طالبان مسلح در آن سوی سرحدات افغانستان است.
دگروال شنکس مسوول بخش روابط عامه نیروهای آیساف در کابل گفت، افغانستان دو همسایه خطرناک دارد که در آن جا از طالبان حمایت می شود، اما به قول وی، بخش اساسی فعالیت ها و حضور طالبان در داخل افغانستان است.
دگروال شنکس این اظهارات را در مصاحبه با رادیو آزادی ابراز کرد و گفت که هدف وی از دو همسایه افغانستان، ایران و پاکستان است .
وی در ادامه گفت:
در همسایه گی افغانستان مناطق خطرناک وجود دارند، و در آن سوی سرحدات پاکستان و ایران روند حمایت ها ...

بقیه در صفحه ۴

په کنړ کې له کوچنیانو سره د مرستې موسسې خپل عملي کار پیل کړ

شهادت:
له کوچنیانو سره د مرستې موسسې H.C.S.D.O چې څه موده وړاندې د کنر په ولایت کې خپل ښوونیز کارونه پیل کړي دی پرون د سه شنبې په سهار د غبرګولی په ۲۵ مه د همدې ولایت په اړوند ولسوالی خاص کنړ کې د یوې درنې غونډې په ترڅ کې چې د ولایت دولتي چارواکو قومي مشرانو، سپین ږیرو او علمي شخصیتونو ګډون درلود د خاص کنړ په ښوونیز مرکز کې د یو لړ ارزونو وروسته د بې وزلو شاګردانو له جملې څخه یو تن شاګرد ....

پاتی ٤ مخ

سپېڅلنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ویاړلی مور نړۍ واله ورځ

تېره یکشنبه (د جون په ۱۴ مه) په افغانستان کې هم د مور نړۍ واله ورځ ونمانځل شوه.

په دې ورځ په ټوله نړۍ کې د مور د اهمیت او دهغې د ښه ژوند د تأمین له پاره بحثونه، مرکې او وېناوې کېږي تر څو ټولنه د مور قدر او قیمت وپېژني او له هغو کړاوونو څخه د ویستلو کوښښ وکړي چې پخپل ژوند کې ورسره لاس او گریوان ده.

په دې کې شک نشته چې په انساني ټولنه کې مور هغه مهم عنصر ده چې ځای یې هیڅوک نشي ډکولې، د مور له شتون سره د انسانیت شتون تړل شویدې که مور نه وې نو انساني ټولنه به هم نه وې. مور هغه هستۍ ده چې ټول انسانیت دهغې په غېږه کې لویږي، همدا مور ده چې د مینې او پیرزوینې په توده غېږه کې د انسانیت پالنه او روزنه کوي او ټولنې ته سالم انسانان وړاندې کوي.

که څه هم په هره انساني ټولنه کې مور ته له بل هر چا نه زیات اهمیت ور کول شوې خو د اسلام سپېڅلي دین چې مور او پلار ته کوم اهمیت او ارزښت ور کړیدې هغه په نورو مذاهبو او ادیانو کې نه ترسترو کېږي.

د کائناتو خالق الله جل جلاله مور او پلار ته دومره ستر اهمیت ور کړیدې چې پخپل ازلي کتاب قرآنکریم کې له انسانیت څخه د خپل عبادت د ترسر کولو ترڅنگ له مور او پلار سره د احسان او خیر ښېگڼې کولو امر کړیدې، مطلب دا چې پر انسان د الله جل جلاله له حقوقو څخه وروسته دویم حق دهغه د مور او پلار دی، په ځانگړی توگه د اسلام مقدس دین له پلار نه مور ته زیات حقوق ور کړیدي.

د احادیثو مستند کتابونه بخاري او ترمذي کې حدیث شریف دی چې یو سړی د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او عرض یې وکړ: یا رسول الله ! له ټولو نه زیات د ښه سلوک حقدار څوک دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ستا مور، هغه پوښتنه وکړه بیا څوک زیات مستحق دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ستا مور، هغه پوښته وکړه بیا څوک؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ستا مور، محمد صلی الله علیه وسلم درې کرته همدا ځواب ورکړ، څلورم ځل چې هغه پوښتنه وکړه چې بیا څوک زیات حقدار دی؟ نو هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ستا پلار.

همدغه راز محمد صلی الله علیه وسلم په خپل مبارک حدیث کې اولادو ته خبرداری ور کړیدې چې الله تعالی پر تاسو له مورگانو نه سرغړونه حرام گرځولې ده. (بخاری)

یو صحابي محمد صلی الله علیه وسلم ته راغی او عرض یې وکړ چې ما په جهاد کې د گډون کولو عزم کړیدی، زه له تاسو نه مشوره غواړم چې جهاد ته لاړ شم او که نه؟ هغه صلی الله علیه وسلم ترینه وپوښتل آیا ستا مور ژوندی ده؟ هغه وویل: هو، محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ته د مور په خدمت کې بوخت اوسه ځکه چې جنت د مور پښو لاندې دی. (احمد)

د اسلام سپېڅلي دین له دې لارښوونو څخه څرگند شو چې د مور د حقوقو د ترسره کولو لپاره نه کوم کال ټاکل شویده او نه هم کومه هفته، ورځ او ساعت چې دهغه په ترسره کولو مسؤولیت ختم او د مور حقوق پر ځای شي، بلکې مور د ژوند په هر ډگر کې هره شیبه د خدمت، عزت او احترام حقداره گڼل شویده، د مور نافرماني کول په حقیقت کې د الله نافرماني کول دي او د مور خوشالول په حقیقت کې د الله جل جلاله خوشالول دي ځکه چې لوی الله جل جلاله خپل رضا او غصه د مور او پلار له رضا او غصې سره تړلې ده. (ترمذي)

مونږ مسلمانان باید په دې خبره خپل سر خلاص کړو چې یواځې په کال کې د مور د نړۍ واله ورځ په نمانځلو او دهغوی په تقلید کې د یوې ورځې لپاره د غونډو او تقریرونو په کولو خپل هغه مسؤولیت نه شو ادا کولی چې د اسلام سپېڅلي دین زمونږ پر غاړه اچولې دی. مونږ باید هغه څه ونکړو چې غربي نړۍ یې کوي ځکه چې په غربي نړۍ کې د مور حقوق په نه حساب دي، اسلام چې مور ته کوم حقوق ور کړیدي په غربي نړۍ کې هغه په اوړو کې د مالگې هومره هم نه دي. مونږ ته نه ښايي چې د مور حقوق له غربیانو زده کړو او یا هم د هغوی تقلید وکړو.

د مور حق، عزت او عفت په دې کې دی چې په ټولنه کې دهغې حیا او عزت تأمین کړو، سر او تن یې د حیا په جامو پټ او دهغې د بدن نازک او حساس اندامونه نمایش ته وړاندې نه کړو. د پیسو گټلو لپاره، کنسرت، سینما، سندرو او نڅا ته اړ ونه باسو، د تجارتي سامانونو د خرڅلاو لپاره دهغې د بدن د حساسو غړو څخه ناوړه گټه اوچته نکړو، په هوټلونو، میخانو او مسافر وړونکو الوتکو کې دهغوی ښایست لیلام نه کړو، د ځوانۍ له ورځو نه د بوډۍ توب تر عمره دهغې لاس په نامه خادمان واوسو او هره شیبه دهغې د ضرورتونو خیال وساتو.

الله مکړه که مونږ د مور حق د غربیانو له دید گاه نه وگورو او دهغوی پر نقش قدم قدمونه کېږدو نو پخپلو لاسو به مو د مور د حقوقو جنازه ویستلې وي او پخپل لاس به مو د الله قهر کسب کړې وي.

له دې واقعیت نه باید سترگې پټې نکړو چې تراوسه پورې افغانان په دې نه دي توانیدلي چې د مور حقوق په صحیح معنی وپېژني او ترسره یې کړي. واقعاً چې په افغانستان کې مور نن هم له خپلو حقه حقوقو څخه بې برخې ده، شپه ورځ په درد ویر او غم کې تیروي، اولادونه یې هم دهغې د حقوقو په ترسره کولو کې له غفلت نه کار اخلي، او دهغوی پلار او ورونه هم دهغې پر جایزو حقوقو سترگې پټوي، په مال او جایداد کې ورته میراث نه ورکوي، د خپلې خوښې واده کولو ته نه پرېږدي، د تعلیم او زده کړې له روا حقوقو نه محرومه ساتي، ډېرې کونډې د خپلې خوښې له واده نه منع کېږي، ډېرې پیغلې تښتول کېږي او په زوره ورباندې نکاح کېږي، ....

پاتې ۳ مخ

برتانیا د دریم ځل لپاره له افغانستانه وځي

محمد حسن حقیار

له رسنیو موواوریدل چې دبرتانیې لومړي وزیر دیوید کامرون چې تېره اونۍ افغانستان ته راغلی وو او دلته یې په هلمند کې دطالبانو له وېرې، برتانوي پوځ په مخابرو کې اورېدلي وو چې طالبان ددیوید کامرون دالوتکې ویشتل غواړي، خپل ماموریت او کاري اجندا نیمه پرېښوده برتانیې ته له ستنېدلو وروسته ویلي دي چې دوی غواړي تر راتلونکي یوه کاله په افغانستان کې دخپلو پوځیانو شمېر کم کړي او په تدریجي ډول له افغانستان څخه ووځي، ده ویلي چې پر داسې لارو چارو غور کوي چې له مخې یې دوی له افغانستان څخه ووځي.

ده له افغانستان څخه د خپلو پوځونو دوېستلو لامل دبریتانیایي ولس فشار بللی.

دبرتانیې ددفاع وزیر ویلیم فاکس هم دکامرون نظر تائید کړی او دا یې دبریتانیې ولس ستره غوښتنه بللې ده.

برتانیا دامهال په افغانستان کې ترامریکا وروسته ترټولو هېوادونو ډېر (نهه نیم زره) پوځ لري.

دافغانستان جگړې دلویدیځ هېوادونو دحکومتونو او ولسونو ترمنځ ددرز او اختلاف لامل شوې ده.

همداتېره میاشت په افغانستان کې دهالندي ځواکونو دما موریت دتمدیدموضوع ددې لامل شوه چې ددې هېواد حکومت ړنگ شي.

دافغانستان کشالې دفرانسې ولسمشر هم استعفی ته اړوېست.

دامریکا دمتحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما تېر کال دخپلې استراتیژۍ داورولو پر مهال وویل چې دوی به د ۲۰۱۱ کال په جولای کې له افغانستان څخه وتل پیل کړي او دادی برتانیا هم په لومړي ځل له افغانستان څخه دوتلو اعلان وکړ.

دوه اونۍ وړاندې چې کله دمتحده ایالاتودمشرانوجرگې افغانستان ته دنویو سرتېرولپاره بودیجه منظوروله نو لدې هېواد څخه یې دامریکایي ځواکونودوېستلو لپاره دمهالوېش دټاکلو وړاندیز هم وکړ.

افغانان دااعلانونه هم دځان او هم ددې اړوندوهېوادونو لپاره په نېک فال نیسي خو ټینگار کوي چې دا وتل باید ددوستۍ په فضا کې وي.

که څه هم دامریکا په سنا کې له افغانستان څخه ددې هېواد دپوځیانو دوېستلوموضوع ترټولو ستره اختلافي او ناندریزه موضوع ده اودسنا ډېر غړي له افغانستان څخه دمتحده ایالاتو دپوځیانو سمدستي ټولیز وتل غواړي ،خو بیاهم دې جرگې دتېرې پنجشنبې په ورځ د ۲۸منفي او۶۷مثبتورایو په ورکولو په افغانستان کې ددې هېواد ځواکونوته دېرش میلیارده ډالره نوې بودیجه منظوره کړه.

ددې دېرش میلیارده ډالریزه بودیجې ډېره برخه به پرهغو دېرش زرو نویو امریکایي پوځیانو ولگېږي چې دمتحده ایالاتوجمهور رئیس بارک اوباما یې دتېر دسمبر په میاشت کې افغانستان ته لېږل اعلان کړل،همداراز ددې بودیجې یوه برخه به په عراق کې پرمېشتو امریکایي ځواکونو هم ولگېږي.

متحده ایالاتوله دې پرته څلور میلیارده ډالردې لپاره ځانگړې کړي چې دبهرنیوچارو دوزارت له لارې یې په افغانستان اوپاکستان کې په رغونیز و او دآبادۍ پر پروژو او په اقتصادي مرستو ولگوي.

پردې سربېره دامریکا کانگرس تردې دمخه هم یوسل اودېرش میلیارده ډالر ددې لپاره منظور کړي وو چې سږ کال په افغانستان کې ولگول شي.

دخبري رسنیو دخبرونوله مخې ،امریکا تراوسه دافغانستان په جگړه کې ترزرمیلیارده ډالرلگولي دي اودپنټاگون د رسمي اعلامیواو اعتراف له مخې تراوسه یې په دې جنگ ځپلي هېواد کې ترزرو ډېر پوځیان وژل شویدي.

دافغانستان جگړه امریکا اوددې هېواد متحدینو ته په ناسوربدله شوې ده امریکایي استراتېژستان ټول په دې همغږي دي چې امریکا ښایي هېڅکله هم په افغانستان کې بریالی نشي.

دوی پوهېږي چې دهرې میاشتې اوهر کال په تېرېدو په افغانستان کې ددوی مخالفین ساه اخلي اوځواکمن کېږي، ددوی پرضد دجگړې ډگرپراخېږي ،مخالفین له نویو جگړه ایزوتکتیکونوسره اشنا کېږي ،په اسلامي نړۍ کې دامریکا پرضد دنفرت اوکرکې دایره پراخېږي ،امریکا داسلامي اوبشردوستي نړۍ له پرېکون ،تجریداوانزواسره مخ کېږي،اودمخالفینو ترشایې ودرېږي.

همدااوس هم په افغانستان کې دامریکا پر ضدله صفر (نقطې) څخه د پیل شوې جگړه تنابونه سوډان لیبیا، سومالیا چین، پاکستان، ایران، روسیې اوغربي نړۍ ته رسېدلي او دجگړې ډگر له اسیاڅخه افریقااوآن اروپاته پراخه شوه.

دافغانستان اوسنی نظامي شرایط څرگندوي چې دلته بهرنیو ځواکونو انساني اومالي تلفات ترهغه شمېر ډېرزیات دي چې، امریکایي استخبارات اوناټوېې له رسنیوسره شریکوي.

دامریکا او دبرتانیا د اولس ډېره غوڅه برخه په افغانستان کې دامریکا او ناټودماموریت پرناکامۍ ډاډه دي ،ددې هېوادونو اتیاسلنه وگړي له افغانستان څخه دخپلوپوځیانو وتل غواړي،

دامریکا سناکې مطرح سناتور تام هارکین وایي: ((زه نوربې صبره شوی یم ،اوس ددې وخت دی چې ددې تفاوت (جنگي انډول) په اړه فکروکړو.))

ددموکرات گوند اړوند یوبل سناتور چیف بینگامین وایي : ((زه فکر کوم بې صبري ډېره زیاته شوې ده))

په افغانستان کې دبهرنیو ځواکونو نهه کلن شتون وښوده چې که دلته ددوی شمېرڅومره ډېرشي خوچې د ولس ملاتړ ورسره نه وي بریالي شونې نده.

همدا اوس له لویوښارونو پرته دافغانستان غوڅه ډېره برخه دمخالفینو په واک کې ده او دولتي حاکمیت پکې کمزوری دی.

ناټو همدا درې میاشتې وړاندې د پنځلس زره کسیز په مجهزو وسلو سمبال پوځ په ملتیا دمارجې په کوچنۍ او دلښکرگاه په غېږ کې پرتې ولسوالۍ کې دمشترک په نوم عملیات پیل کړل،لسگونه ملکي وگړي یې ووژل ،زرگونه یې بې کوره کړل خو دادی اوس هم مارجه له طالبانوسره ده اوامنیت پکې دپخواپر پرتله ډېر خراب دی.

په افغانستان کې د ۴۸هېوادونو دوسلوالو ځواکونودشتون سربېره هم له یوې اونۍ جبهه یې جگړې وروسته دنورستان دبرکمټال ولسوالۍ طالبانوونیوه نو که دلته دبهرنیوځواکونو شمېرډېر هم شي نو څه گټه به وکړي؟

متحده ایالاتو برتانیا او دناټو اړوند د نورو هېوادو چارواکیو ته زمونږ وړاندیز دادی چې دخپلو ولسونو اوافغانانوگټه غږ ته غوږ راغلاست ووایي اوددې پرځای چې افغانستان ته نور پوځیان راولېږي باید دیوې معقولې اوافغانانو اومتحده ته دمنلو وړ استراتېژۍ له مخې له افغانستان څخه خپل ټول موجود پوځیان هم وباسي.

که امریکااوبرتانیا په رښتیا هم افغانستان خپل استراتېژیک ملگری بولي نوپه کارده چې په افغانستان کې خپل پوځي شتون پای ته ورسوي ، خپل سیاسي او اقتصادي شتون تقویه کړي په افغانستان کې یو رښتوني ملي حکومت ،ځواکمن اوپرېښو ودروي،هغه څو میلیارده ډالریز لگښت چې اوباما او کامرون یې په افغانستان کې پخپلو پوځیانوپه روښانیي ډول کوي ،داوبو پرسر زگ ته ورته دی اوهېڅ ځای نه نیسي.

که دوی د دې لگښت پنځمه برخه هم دافغانستان پر امنیتي سکتور ولگوي نوافغانستان به دیوپیاوړي اوزړور اردو اوپولیسي تشکل درلودونکی وي، بیابه امریکا اوناټو اړ نه وي چې افغانستان ته سلگونه میلیارده ډالر راولېږي اولدې ځایه یې په بدل کې دپوځیانو زرگونه جنازې وېسي،نه به یې پرضد چین ،ایران ،روس،عربي نړۍ او...ائتلاف جوړوي.

افغانان دلوېدیځې نړۍ سیاسي ،او اقتصادي شتون اوله هغوی سره دمتقابل احترام په فضاکې دوستي غواړي.

افغانستان د نړیوالو ، په ځانگړې توگه د لوېدیځې نړۍ مرستو ته اړ او دگلو بلایزیشن پلوی دی خوافغانان دلته دبهرنیانو پوځي تورم دځان، سیمې او دبهرنیانو په گټه نه بولي ښه داده چې پربهرنیو ځواکونو کېدونکی لگښت پرافغان امنیتي سکتور وشي.

داچې اوس له امریکا، کاناډا، هالند، فرانسې ،کوریا او.... وروسته برتانیا هم دخپلو پوځونوویستل اعلان کړل نو افغانان ددې هېوادونو لخوا دپورتنیو شرائطو په پام کې نیولووروسته ددې اعلان هرکلي کوي.

آیا د حنیف اتمر او امرالله صالح په لېرې کېدو به امنیت بنه شي؟!

عبیدالله صافی

د امرالله صالح او حنیف اتمر استعفاګانو ته ډېرې رسنی او شخصیات مختلف رنګونه ورکوي، څوک وایي چې دا د پاکستان په وینا لېرې شوي او څوک وایي چې دوی د سولې د ملي مشورتي جرګې امنیت په ساتلو کې د ناکامي په وجه د خپلو استعفاګانو په وړاندې کولو سره خپل اخلاقي مسؤولیت ترسره کړی دی. په هر حال ډېرې خولې او ډېرې خبرې، خو له دې واقعیت نه انکار نشي کېدلې چې په یو هېواد کې تر هغې څوک د امنیت د تأمینولو ضمانت نشي ورکولې تر څو چې په هغه هېواد کې د داخلي جنګونو مخه نه وي نیول شوي او د هېواد وګړو د امن او سولې فضاء تر سیورې لاندې ژوند نه وي غوره کړې. په جنګ کې جلبې نه ویشل کېږي چې د چا پوزه وینه نشي بلکې جنګ هغه توره بلا ده چې له وینې تویونې او ویجاړې پرته بل څه له ځان سره نه لري، د جنګ مطلب او مقصد دا وي چې له هرې لارې وي خپل مقابل لورې ته بشپړه ماته ورکړي، له صحنې لېرې کړي او پخپله ورباندې مسلط شي. په افغانستان کې چې د تېرو څو کلونو راهیسې کوم جنګ روان دی ددې تر شا همدا انګېزه ده چې هر یو خپل مقابل لورې کمزوری او له منځه یوسي، همدا لامل دی چې هره ورځ د هېواد مختلفو ولایتونو او ولسوالیو کې د بې ګناه ملکي وګړو ترڅنګ د متخاصمو لوریو ګڼ کسان خپل ژوند له لاسه ورکوي او د مرګونو دغه لړی به تر هغې روانه وي تر څو چې دهغوی په سینو کې د جنګ له لارې د خپل مقابل لورې د له منځه وړلو جذبه او فکر موجود وي.

که د نړی لسګونه ستر پوځي ځواکونه چې تر غاښو پورې په پرمختللیو وسایلو او تجهیزاتو مجهز دي نشي کولې چې لږ تر لږه په افغانستان کې خپل پوځیان له مرګ ژوبلې نه وساتي، د انتحاري بریدونو مخه ونیسي افغانستان کې غوندی د یو کمزوري هېواد دفاع، د کورنیو چارو وزیر او ملي امنیت مسؤول په کوم قوت کولې شي چې د خپلو مخالفینو د بریدونو مخه ونیسي؟

دا خبره په سلو کې سل صحت ته رسیدلې چې په افغانستان کې د جنګ له لارې یوه مسئله هم نشي حلیدلې او هیڅ لورې نشي کولې چې د جنګ په زور خپل مقاصد او اهداف ترلاسه کړي، بهرنیو هېوادو ته هم پکار دي چې د افغانستان تاریخي حقایق ومني او د جنګ له لارې د بریالیتوب دترلاسه کولو پر ځای د افغانانو ترمنځ د سولې او روغې جوړې فضاء د پیدا کولو هلې ځلې وکړي.

دا خو دوه لوړ پوړي چارواکی له خپلې دندې لېرې شوي که ټول وزیران هم لېرې او پر ځای نور اشخاص دهغوی پر ځای وګمارل شي بیا هم په افغانستان کې امن نه شي راوستلې ځکه چې تر څو پورې په هېواد کې د بې اتفاقی لګیدلې اور نه وي مړ شوې د جنګونو لړی به ضرور روانې وي، د بمونو چاودنی به هم کیږي او د راکټونو او توغندیو فیرونه به هم کیږي. له دې بدمرغی او ناوړو جګړو څخه د خلاصون یواځیني لاره داده چې افغانان نور له خپلو مغزو څخه د خپل منځي جګړو او د زور له لارې اقتدار ته د رسیدو خیالونه او خوبونه وباسي صحیح منطق، صحیح کرنلاره او سالم دریځ خپل کړي، هر هغه سالم قانون او اصول ومنې چې دهغه په خپلولو سره هره مسئله او هر مشکل د خپل منځي مفاهمت او مشورو له لارې حل او فصل کیږي.

الحمدلله د افغانستان ولس خو هغه نیکبخت قام دی چې ورسره د الله تعالی سپېڅلې نظام د قرآن کریم او نبوي سنتو په بڼه کې ورسره موجود دی او ټول مسائل پکې حل شویدي.

د افغانستان د مسلمان اولس له دولت او دهغه له مخالفینو څخه یواځینې غوښتنه او هیله داده چې نور خپل قوت او انرژي خپلمنځي جګړو کې مصرف نه کړي، نه دې خپل هېواد کمزوری کړي او نه هم خپل اقتصاد او ولس. پخپلو کې دی د ورورې په ټغر کیني او خپل اختلافات د وروري په خواږه فضاء کې حل او فصل کړي، په دې کار سره به نه یواځې دا چې د ورور وژنې لړی پای ته ورسیږي بلکې افغانستان به د نورو مغرضو او بد نیتو هېوادو له هر اړخیز لاسوهنې څخه هم په امن شي. د پرمختګ پړاوونه به ووهي او د خود کفا په لوری به چټک ګامونه اوچت کړي.

د ویاړلی مور نړی واله ...

په ټولنه کې په ټیټ نظر ورته کتل کیږي. لنډه دا چې سره لدینه چې ښځه، په ځانګړی توګه مور په اسلامي ټولنه کې لوی ارزښت لري او د الله دین ورته اوچته مرتبه ورکړیده له خپلو ټولو حقوقو څخه محروم ژوند تیروي.

یواځې په زړه آرامه او په علمي وسله سنبال مور کولې شي چې ټولنې ته ښه سالم نسل وړاندې کړي. هغه مور چې هر وخت د غم او ویر په ټغر ناسته وي، خندا او خوشالي له هغې کډه کړې وي، د سر پټولو لپاره جونګړه، او خوراک څښاک لپاره د یو وخت ډوډی نه لري، اولادونه یې د جنګ په ډګر کې د باروتو او بمونو د سرو لمبو خوراک ګرځي څنګه کولې شي چې په خپلو غیږو کې سالم اولادونه وروزي؟ !

په کال کې یوه ورځ د مور د حقوقو نړی وال ورځ نمانځل په حقیقت کې پر مور ملنډې وهل دي، له عمل نه خالي تش د مور ورځ نمانځل د هیڅ یوې مور درد نه شي دوا کولې ځکه چې له دې ورځې نه مور هغه څه نشي ترلاسه کولې چې دهغې د ټپونو ټکور ګرځي.

له دې حقیقت نه هیڅوک انکار نه شي کولې چې د مور د زړه راحت او ملحم دهغه د اولادونو ښه ژوند او سلامتیا ده. د نړی په سر هیڅ یو مور نه غواړي چې دهغې اولاد د جنګونو خوراک شي، د بمونو او باروتو په تورولو خړو کې خپل غړي له لاسه ورکړي.

خو ډېر افسوس چې انسانیت د خپلو مورګانو ددغې جذبې او احساس قدر ونکړ، هر چېرته او هر ځای کې یې د جنګ او وژنې میدانونه ګرم کړل، د نړی په زیاترو برخو کې د خونړیو جګړو دروازې پرانستلې، د پراختیا غوښتنې او استعلاجویي فرعوني فکر د مور ځیګر سورې سورې او ګریوان یې له اوښکو ډک کړ.

که نړی وال په واقعي معنی د زړه له کومې غواړي چې د مور حقوق ترسره او دهغې غم په خوښی بدله کړي نو ددې یواځیني لاره داده چې د جنګ او جګړې شیطاني جذبه له خپل دماغه وباسي د پراختیا غوښتنې، استعلا، استحصال او استکبار فرعوني خصلت پرېږدي.

د انسانانو حقوق رعایت کړي او هر انسان ته د عزت او کرامت په نظر وګوري. هر چا چې هر چېرته د بل چا ځمکې اشغال او دهغوی حقوق او استقلال سلب کړي له څه قید او شرط پرېږدي. د ظالم له ملګرتیا نه لاس په سر او د مظلومانو د حقوقو داعادی لپاره ملا وتړي، مقبوضه سیمې ټولې خوشې او خپل ټول وسایل او قابلیت د سولې د تأمین لپاره وقف کړي، په ځانګړی توګه مسلمانان دې په عملي ډګر کې دا ثابت کړي چې هغوی د مور د حقوقو ترڅنګ د ټولنې او د نړی د هر انسان د حقوقو علمبردار، د سولې فرښته او د انسانیت د خیر ښېګنې داعي دی.

له څه شک پرته که چېرته مسلمانان چې ځانونه د الله تعالی ددین او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پیرو کاران بولي د عمل ډګر ته ودانګي او د اسلام په هر یو حکم صحیح عمل وکړي نو نه یواځې دا چې د ګردی نړی د انسانیت لپاره په یوه نمونه وي بلکې ددوی دا نیک کردار به ددې باعث وګرځي چې نور انسانیت هم د دوی په تقلید کولو سره د مور په شمول د هر انسان صحیح حق وپیژني او نړی د امن او خوښی په زانګو بدله کړي.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

پخوانی نوم: وول وولرز ویلسن
د هیواد نوم ډنمارک

د یو نوې مسلمان شوي ډنمارکي څرګندونې

وول وولرز په سعودی عربستان کې د سفارت دنده درلوده د لوی الله په فضل د اسلام پر دین مشرف شوه هغه د اسلام د قبلولو په اړه د الدعوه له مجلې سره یوه مرکه کړی چې لنډیز یې ګرانو لوستونکو ته وړاندې کیږي.

الدعوه: که تاسې د اسلام منلو کیسه پخپله ژبه موږ ته وکړی نو مهرباني به مو وي؟

کله چې زه په کال ۱۹۶۳ کې نوی ځلمی وم نو منځني ختیځ ته د سیاحت لپاره راغلم لدینه وړاندې مې شام، لبنان، مصر، مغرب اقصی او نورو ښارونو ته هم سفرونه کړی وو. په دې وخت له ډېرو مسلمانانو سره زما اړیکی ټینګی او خبرې اترې مې ورسره شوی وې. لدې پرته مې د اسلام په باره کې نورې ډېرې رسالې او کتابونه هم کتلي وو، له مسلمانانو سره زما ناسته ولاړه ددې باعث شو چې د اسلام په باره کې ډېر معلومات ترلاسه کړم، بالاخره زه په دې داډمن شوم چې یواځې اسلام د الله تعالی رښتونی دین دی او نور ادیان هیڅ حقیقت نلري ددین دغه حقانیت زه دیته اړ کړم چې پخپله خوښه د اسلام دین ومنم او په ښکاره د مسلمانیدو اعلان وکړم.

لدې وروسته مې مغرب اقصی، جزائر او نورو سیمو ته د خپل هېواد د سفیر په توګه سفرونه وکړل، د اسلام دا کار مې ډېر خوښ شو چې له تناقصاتو او تضاداتو څخه پاک دی، د نورو ادیانو په څېر د اسلام یو جز د بل جز تکذیب او تردید نه کوي. مثلاً یهودیت او نصرانیت دواړه له الله تعالی سره نور معبودان هم مقرر کړیدي، نصاراو د عیسی علیه السلام دومره تقدیس او تعظیم وکړ چې هغه یې د الوهیت درجې ته ورساو، مګر اسلام له دا ډول شرک څخه پاک دی. هغه یواځې د یو الله د بندګی دعوت ورکوي.

الدعوه: آیا د ځینو مسلمانانو غلط عمل ستا په ذهن کې پریشاني نه پیدا کوي؟

د اسلام سپېڅلي دین او انساني طرز العمل کې لوی فرق دی، په دین کې هیڅ ډول بدلون نه راځي البته انسان پخپله بدلیږي، له انسانه غلطی هم کیدې شي هغه څه فرښته نه ده چې غلطي ونه کړي. لیکن زما غالب ګمان دادی چې اسلام عموماً د خلکو په ژوند خپلې وزرې غوړولې دي.

الدعوه: آیا د اسلام له قبلولو نه وروسته تا پخپل ځان کې څه فرق محسوس کړیدي؟

هو ! د اسلام له منلو نه وروسته زما په ټولنیز او انفرادي ژوند کې کافي انقلاب راغلی دی. د روژې میاشت هغه مقدس میاشت ده چې د مؤمن په ژوند کې ستر ستر بدلونونه راوړي، ایمان غښتلی کوي او د مسلمانانو ترمنځ ښې اړیکې ټینګوي.

الدعوه: آیا د اسلام له منلو وروسته له مشکلاتو سره مخامخ شوی یې؟

هو ! د اسلام له قبلولو وروسته په فطري توګه زما مشکلات زیات شول، په ځانګړی ډول د اسلام په اړه چې ډېرې پوښتنې رانه کیدلې، زه دیته اړ شوم چې زیات اسلامي کتابونه ولولم او د اسلام په باره کې زیات معلومات ترلاسه کړم، دې لپاره چې په اسلام پوه شوم عربي ژبه او عربي ګرامر مې زده کړه چې زما لپاره کافی ګران کارو. کله چې زه عمری ته تللی وم او هلته د طواف په وخت کې کوم عربي دعاګانې لوستل کیدې هغه مې نه شوی ویلې ځکه چې په عربي نه پوهیدم، د عربي له زده کولو وروسته اوس الحمدلله څه مشکل نه لرم.

اوس غربي هیوادونه داسې داعیانو ته ضرورت لري چې د اسلام په باره کې پوره معلومات ولري او خلک په اسلام قانع کړي.

د غرب اوسیدونکی د اسلام په باره کې صحیح معلومات نه لري، هغوی مسلمانان همیشه خپل حریفان او دښمن ګڼي نو ځکه دداسې داعیانو ضرورت دی چې دهغوی په وړاندې د اسلام صحیح ترجماني وکړي او د اسلام په اړه دهغوی اندېښنې لېرې کړي.

الدعوه: په شمالي اروپا کې د اسلام د مبلغینو په وړاندې لوی خنډ څه شی دی؟

ځواب: دهغوی په وړاندې ستر مشکل دادی چې دهغوی تعداد لږ دی، دې لپاره چې اسلام په لږ وخت کې خلکو ته ورسیږي د ډېرو داعیانو ضرورت دی، په غرب کې چې کوم مسلمانان اوسیږي هغوی د نورو اسلامي نړی له مسلمانانو څخه ډېر لېرې دي، ددې خبرې ضرورت دی چې له اسلامي نړی څخه زیات شمېر داعیان د غربی هېوادو مسلمانانو څنګ ته راشي او له هغوی سره معنوي روحاني او مادي مرسته وکړي.

الدعوه: په اروپا کې د اسلام د راتلونکی په اړه ستا څه رای ده؟

ځواب: په اروپا کې د اسلام مستقبل ډېره ښه دی ځکه چې هلته د مسلمانانو تناسب ورځ په ورځ زیاتیږي، یواځې په فرانسه کې له څلورو ملیونو نه زیات مسلمانان اوسیږي غربي هیوادو ته چې څومره ډېر مسلمانان راشي نو د اسلام په باره کې د خلکو پوهه زیاتیږي او د اسلام دین منلو ته چمتو کیږي.

الدعوه: اسلام چې انسان ته کوم حقوق ورکړي دي هغه تاته معلوم دي، آیا نصرانیت او فرانسوي انقلاب انسانانو ته د اسلام په څېر حقوق ورکړیدي؟

ځواب: په دواړو مذهبونو کې انسانانو ته حقوق ور کول شویدي، لیکن د اسلام نقطه نظر د عیسویت له نقطه نظر نه بالکل جلا دی، اسلام د انسانانو حقونو ته د شریعت په سترګه ګوري ځکه چې د انسان پر ژوند د شریعت حکمرانی ده، نو ځکه په حقوقو او فرایضو کې هم په عمومي ډول د شریعت حکم چلیږي. مګر په نصرانیت کې انساني حقوق په کلیسا کې ویشل کیږي، اوس اوس خو په اروپا کې انساني حقوق د کلیسا پر ځای د اروپا له ځانه جوړ شوی قانون پابند دی، په اروپا کې مذهب او کلیسا دوه جلا جلا څیزونه ګڼل کیږي.

الدعوه: تاسې مخکې هم وویل چې غربي میډیا او مطبوعات اسلام او مسلمانان په صحیح بڼه کې نه پیش کوي، کله ورته ترهګر وایي او کله ورته مرتجع او روایت پرست (بنسټپال) په دې باره کې ستاسې څه رای ده؟

ځواب: اروپایی، عربي هیوادو او نورو اسلامي نړی ترمنځ په ډېرو شیانو کې مماثلت او مشابهت دی، په دواړو کې ترهګر عناصر لیدل کیږي، بې ګناه وګړي که هغوی مسلمان وي یا غیر مسلم له څه توپیر پرته وژني، مثلاً نن سبا په بوسنیا هرزی ګو وینا کې د سربیا وحشي درندې د ظلم او بربریت کوم کارونه کوي هغه د دنیا په وړاندې دي، لنډه دا چې د ترهګرۍ جرړې هر چېرته موجودی دي. ......

پاتې ٤ مخ

شهادت اوونیزه

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
اړیکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

د یو نوي مسلمان شوي ډنمارکي ...

د اروپا او آسیا یوه سیمه هم لدینه خالی نه ده. مگر دا ډېر زیاتی دی چې یواځې عربانو ته ترهگر ویل کیږي، کوم څلک چې په عربو دا تور لگوی هغوی پخپله ترهگر او د اسلام دښمنان دي. مثلاً اسرائیل د فلسطین د انتفاضی تحریک ته ترهگر وایی. په داسې حال کې چې دا صحیح خبره نه ده څکه چې فلسطینی ولس خو د خپلو روا حقوقو او خپلې خاورې د آزادی لپاره جنگیږي.

الدعوه: آیا د اسلامي هېوادو له فعلی حالاتو نه مطمئن یې؟

ځواب: په اوسني وخت کې اسلامي هیوادونه په دوو برخو ویشل شویدي یو هغه دي چې د امن او آشتی په فضاء کې آرام ژوند تیروي، بل هغه چې په سیاسي او اقتصادي مشکلاتو کې اخته دي، لکه د فلسطین، بوسنیا او ځینو نورو هېوادو مسلمان اولس د جنگ په وجه له یو بلا اقتصادي کړاوونو سره لاس و گریوان دی، د مسلمانانو مسؤولیت دا دی چې د ژوند په هر ډگر کې له هغوی سره هر ډول مرسته او ملاتړ یې وکړي، دهغوی د حقوقو د تحفظ او اعادې لپاره له هیڅ ډول مالي او ځاني مرستې څخه ډډه ونکړي، په دې لاره کې کوتاهي او غفلت کول د اسلام په باره کې کوتاهي او غفلت کول دي چې دا کار له مسلمانانو سره نه ښايي.

گرد همایی در ولسوالی قره باغ

به اساس هدایت مقام ریاست حزب اسلامی و فیصله شورای محترم ولایت کابل بخاطر توسعه سیاسی و افتتاح دفاتر اداری حزب اسلامی در ولسوالی های مربوطه ولایت کابل، نشست بتاریخ ۱۹ جوزا در ولسوالی قره باغ به اشتراک اعضای شورای رهبری حزب اعضای شورای ولسوالی قره باغ، نماینده گان سائر ولسوالی ها بشمول موسفیدان قوم، علمای دین و جوانان در قریه سبزسنگ ولسوالی قره باغ دایر گردید.

جلسه بعد از قرائت آیات چند از قرآن مجید آغاز و مجلس ذریعه محترم مولوی صاحب شریف الله رئیس شورای ولسوالی قره باغ افتتاح گردید و برادران حاضر جلسه در رابطه موضوع خطابه های شانرا در مورد انتخابات و ضرورت افتتاح دفاتر حزب اسلامی در ولسوالی ها و مراکز ایراد فرمودند. محترم قوماندان نور آغا کاندید ولسي جرگه برنامه کاری خود را در مورد انتخابات پارلمانی تشریح نمودند. در ختم محفل استاد حیران عضو شورای رهبری ولسوالی قره باغ پیشنهاد نمودند که استاد نبی خان باید به صفت رئیس شورای کوهدامن که مرکب از هفت ولسوالی میشود تعیین گردد. پیشنهاد مذکور از طرف شاملین جلسه مورد تائید قرار گرفت تصمیم اتخاذ گردید تا در آینده نزدیک مرکز شوری کوهدامن در ولسوالی قره باغ تعیین گردد. و غرض انتخاب شوری رهبری کوهدامن باید تعداد دو، دو نفر از ولسوالی در جلسه بعدی حضور بهم رسانند، جلسه با دعائیه محترم مولوی صاحب شریف الله بساعت (۵) بجه عصر چهارشنبه گذشته خاتمه یافت.

(دفتر شورای ولایتی ولایت کابل)

نوید از شورای ولسوالی پغمان
برای اطفال، زنان و جوانان مسلمان

بسا جای افتخار است که در تاریخ تسلسلی مبارزات خسته‌گی ناپذیر و قهرمانانه، افتخار آفرین و شهادت خواهانه مردم آزاده و مسلمان ما که در پیشاپیش این کاروان عظیم و آزادیخواه که شهدای نهضت اسلامی ما با درفش های سبز گون که نمود و سمبول آزادی ملت های مسلمان میباشد قرار دارند. و نسل کنونی ما که رسالت عظیم و تاریخی و نقش عمده و حیاتی در ساختار جامعه دینی ما دارد. باید با حرکت پویا و با فرهنگ عالی و انسان ساز در پرتو هدایات دین در برابر هجوم فرهنگ نارسایی مدنی غرب قرار بگیرند. و با داشتن استعداد و دانش نوین که شالودهٔ آن تمسکات الهی باشد. بتوانند بر تمام نارسایی ها و عقب مانده گی قرن حاضر فایق آیند.

برادر مجاهد ما، داکتر صاحب حبیب الله که انسان علم پرور و خدا دوست میباشد، با تلاش و عرق ریزی درین راستا قدم های مسؤولانه و بزرگ را گذاشته است و خود یکتن از اعضای شوری رهبری ولسوالی پغمان میباشد. شورای ولایتی ولایت کابل حزب اسلامی افغانستان برای این برادر کوشا، دلیر و تلاشگر خود موفقیت های مزید و توفقیات الهی را استدعا مینمایند.

اطلاعیه!

شوری محترم ولسوالی پغمان با توجه این رهنمود و بخاطر تنویر نسل جوان و خدمات شایسته به مردم مسلمان ما، و جهت بلند بردن سطح علمی دانش جوانان و فرزندان شهدا، معلولین معیوبین و هموطنان بی بضاعت کورس های رایگان از قبیل ترجمه قرآنکریم، حدیث شریف، دروس فقهی، ریاضی، الجبر و انگلیسی و کامپیوتر را تحت نظر استادان مجرب و هدفمند به راه انداخته و دروس آنرا مطابق تقسیم اوقات معینه آغاز نموده. فعلاً به تعداد هفتاد نفر دانش آموز ثبت نام و مصروف دروس یومیه خود میباشند.

بناءً به اطلاع رسانیده می شود که علاقه مندان و شایقین علم و دانش میتوانند بطور رایگان و ثبت نام نموده و شامل کورس های متذکره شوند.

ادرس: کمپنی، جنوب لیسه قلعه کاشف، دفتر مرکزی شورای ولسوالی پغمان
سرپرست اداری دفتر (داکتر حبیب الله)
(دفتر شورای ولایتی ولایت کابل)

مقامات نیرو های امنیتی از تدابیر جدی کنفرانس کابل خبر دادند

کابل، رسانه ها:

مقامات نیروهای امنیتی قوماندان هماهنگی که متشکل از نیروهای پولیس ،اردوی ملی و آیساف ،از تدابیر و آمادگی های لازم روی دست داشته ایشان است در ۲۰ جولای برگذار شود از آمادگی های لازم روی دست داشته خبر دادند.

تورنجنرال قدیم شاه صمیم قوماندان فرقه ۱۱۱ امروز در یک کنفرانس مشترک مطبوعاتی با نماینده گان قوماندانی زون ۱۱۱ آسمایی کابل و قوماندانی RCC به مطبوعات گفت: نیروهای امنیتی افغان به خصوص فرقه ۱۱۱ کابل،زون ۱۰۱ آسمایی و قوماندان RCC تامین امنیت کابل را به عهده دارد و با تدابیر خوب امنیتی و هماهنگی کنفرانس کابل موفقانه به پایان خواهند رساند. وی اضافه کرد :بخاطر تامین امنیت کنفرانس کابل ما روی پلان ها امنیتی مشترکاً کار میکنیم و امیداور هستم که یک کنفرانس بسیار مفید برای مردم افغانستان در ک فضا صلح آمیز اماده بتوانیم. وی افزود که، دشمن میخواهد در کنفرانس که بخاطر صلح برگزار شود آنرا ناکام بسازد اما تمام تلاش شانرا جهت تامین امنیت به خرج داده و دشمن را به هیچ وجه قادر به اخلال کنفرانس نخواهند گذاشت. جنرال خلیل درستیزوال قوماندانی زون ۱۰۱ آسمایی به رسانه ها گفت : مسوولیت حملات بر جرگه مشورتی ملی صلح به تمام ارگانها امنیتی دخیل میاشد و نیروهای امنیتی پیش از جرگه و در جریان جرگه دستارود ها خوبی هم داشتند . وی اضافه کرد که، ولایت کابل ۵ کمربند امنیتی دارد که ۳ کمربند امنیتی مربوط نیروهای پولیس یک ان مربوط اردوی ملی و یک دیگر آن که هوایی میاشد مربوط نیروهای آیساف و نیروهای هوایی افغانستان میاشد.

شورای امنیت در مورد حذف ...

و ما از آن پشتیبانی می کنیم.

حذف نام های رهبران مخالفان دولت افغانستان از لست سیاه سازمان ملل متحد یکی از تقاضا های عمدهء اعضای جرگه ملی مشورتی صلح را تشکیل می دهد.

نماینده خاص سازمان ملل متحد برای افغانستان در بخش از صحبت هایش گفت، هر گونه تصمیم در این مورد در حضور اعضای شورای امنیت سازمان ملل متحد صورت خواهد گرفت.

به گفته مقامات سازمان ملل متحد، در حال حاضر نام های ۱۳۷ افغان در فهرست سیاه شورای امنیت این سازمان درج است.

آقای دیمستورا با تاکید گفت که باید تا فرا رسیدن زمان برگزاری کنفرانس بین المللی کابل در بخش عملی کردن فیصله های جرگهء ملی مشورتی صلح گام های جدی برداشته شود.

قرار است کنفرانس کابل به تاریخ بیست و نهم سرطان امسال در کابل برگزار شود.

جرگهء ملی مشورتی صلح هم چنان از حکومت افغانستان و جامعهء بین المللی خواسته تا به عنوان حسن نیت تمام زندانیان بی گناه را از بند رها بسازند.

نماینده خاص منشی عمومی سازمان ملل متحد برای افغانستان ارایه پاسخ مثبت به این درخواست را گام نیک در جهت ایجاد فضای اعتماد توصیف کرده است.

آقای دیمستورا می گوید:

مساله‌ء زندانیان بسیار مهم و عاجل است، و این برای عملی کردن تصامیم جرگهء ملی مشورتی صلح است. البته در این رابطه از معیارهای اساسی استفاده شود، از معیار های که برای همه قابل استفاده باشد و آنان نیز از آن بهره مند شوند که بدون داشتن جرم و یا ارتباط سیاسی زندانی شده اند.

آقای دیمستورا هم چنان گفت که این همه باید در مطابقت با قانون اساسی افغانستان صورت گیرد و به گفته وی مخالفان دولت افغانستان هم باید روابط شان را با القاعده قطع کنند.

جرگهء ملی مشورتی صلح با حضور نزدیک به ۱۶۰۰ تن از بزرگان اقوام که بر علاوهء افغانستان از کشورهای ایران و پاکستان هم اشتراک کرده بودند، در ماه جاری برای سه روز در کابل گشایش یافت.

اشتراک کننده گان این جرگه پس از سه روز مذاکره، قطعنامه یی را صادر کردند که در آن برای حکومت افغانستان، جامعهء جهانی و مخالفان مسلح دولت سفارش های شده بود.

د طالبانو او آی.ایس.آی ...

"موږ هیله مندیو چې هڅې مو د نړیوالې ټولنې د اقناعت حاصل کړي، چې د تروریزم اصلي پټځایونو او د تمویل منابعو ته یې پام وشي. که داسې ونه شي، د افغانستان دننه ورسره جگړه بریالیتوب ته نه شي رسیدلی".

په دې هکله افغان دولت او کارپوهان له څو کالو راهیسې وایي، چې وسله وال طالبان د پاکستان په خاوره کې دي، هلته تمویل او تجهیزیږي او بیا د افغانستان پر پولو را اوړي.

خو د پاکستان حکومت وایي، چې د دواړو هیوادونو پر پولو یې په لسگونو زره پوځیانو پراته دي او هڅه کوي، چې په پولو کې د تروریستانو د تگ راتگ مخه ونیسي.

په کنړ کې کوچنیانو سره ...

عجیب الله ددې وړ وپیژندل شو چې امریکا ته د زده کړو لپاره ولیږل شي.

د نوموړی موسسې علمي مرستیال انجنیر شاه محمود شائق وایي چې دا لړی به د هیواد نورو سیمو ته هم وغځول شي تر څو د افغانستان له مختلفو سیمو څخه د غریبو او بې وزلو کورنیو قابل شاگردان د زده کړو لپاره امریکا ته واستول شي.

چې په راتلونکی کې د خپل هېواد او ټولنې د خدمت مصدر وگرځي.

روند حمایت در ایران و ...

از طالبان مسلح رو به افزایش است. با آن که بخش اعظم و اساسی خشونت ها را آن عده از طالبانی ایجاد کرده اند که در افغانستان فعالیت می کنند، اما از آنان در بیرون از افغانستان حمایت می شود و رهبران آنان نیز در بیرون از سرحدات این کشور هستند.

دگروال شکنس گفت که آنان به خصوص در مورد حمایت ایران از طالبان شواهد انکار ناپذیر در اختیار دارند.

مقامات ناتو این اظهارات را در حالی ابراز کرده اند که در موج تازه یی از نا آرامی ها در جریان چهار روز گذشته، حدود ۲۰ تن از سربازان نیروهای بین المللی در افغانستان کشته شده اند.

اما این سخنگوی نیروهای بین المللی گفت، تلفات تازه نیروهای بین المللی خلاف توقع آنان نبوده است.

به گفته وی، در حالی که به تعداد نیروهای بین المللی افزایش به عمل آمده و این نیروها به مناطق نا امن فرستاده می شوند، افزایش تلفات در کوتاه مدت یک امر اجتناب ناپذیر است.

وی افزود:

ما در گذشته و در مناطق بسیاری شاهد بوده ایم، زمانی که نیروهای ما برای حفاظت از جان افغان ها به مناطق نا امن رفته اند تا با نیروهای افغان یک جا امنیت را تامین کنند، از میزان خشونت ها کاسته شده است.

این همه مسایل به وقت نیاز دارد، این رویداد ها باعث نگرانی ما نیست، بلکه ما را نسبت به آینده امیدوار می سازد.

با آن که همواره علت اساسی افزایش خشونت ها در افغانستان فعالیت های طالبان و حمایت های بیرونی از آنان عنوان می شود، اما تا به حال برای از بین بردن مراکز مخالفین در بیرون از افغانستان اقدامات جدی صورت نگرفته است.

مردم افغانستان و کارشناسان در این کشور می گویند که بدون از بین بردن حمایت های خارجی و مراکز مخالفین در بیرون از افغانستان، مبارزه با تروریزم در داخل افغانستان نتیجهء مطلوب در پی نخواهد داشت.

تازه څېړنې ښيي چې افغانستان په نړۍ کې سترې طبیعي زېرمې لري

امریکا، رسنۍ:

د امریکا د پینټاگون یا دفاع وزارت له یوه داخلي یادداشت سره سم افغانستان دومره کاني مواد لري چې له دې هیواده په تېره بیا د لیتیومو له برکته د سعودي عربستان په شان شتمن هیواد جوړېدای شي.

نیویارک ټایمز ورځپاڼې نن په یوه راپور کې وویل چې امریکایي جیالوجیستانو د خپلو پلټنو په ترڅ کې څرگنده کړې چې په افغانستان کې د یو تریلیون (زرملیارد) ډالرو په ارزښت د مسواو لیتیمو کانونه شته.

جگپوړو امریکایي مقاماتو نیویارک ټایمز ته دا هم ویلي چې د افغانستان په ارزښتناکو کانونو کې وسپنه ،سره زر،نیوبیم او کوبالټ هم شامل دي.

نیویارک ټایمز وایي چې د افغانستان لیتیم lithium د بولویا تر لیتیمو زیات دي چې په نړۍ کې د دې موادوډېرشتمن هیواد بلل کېږي.لیتیوم په بیاچارجېدونکو بېټریواو همداراز د کمپیوټر،لپ ټاپ، ټیلفونونو او نورو الکرتونیکي وسایلو په بیټریو کې کارول کېږي.

امریکایي جیالوجیستان وایي د افغانستان معدني مواد دومره زیات دي چې دا هیواد له اقتصادي نظره په خپلو پښو درولی شي.

په منځني ختیځ او جنوبي اسیا کې د امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال ډیویډ پیټرایوس نیویارک ټایمز ته ویلي دي افغانستان د پام وړ زیرمې لري خو په دې اړه هم سوالونه شته چې دا کار به څنگه او په څه ډول سره کېږي خو له دې سره سره دی وایي چې دا طبیعي زیرمې ډېرې پراخې دي.

ورځپاڼه د افغانستان د کانونو د وزارت د سلاکار جلیل جومیراني له قوله لیکي چې وایي، دا زیرمې د افغانستان د اقتصاد د ملا تیر کېدای شي.

د نیویارک ټایمز د راپور له مخې د افغانستان د کانونو په اړه دا نوي معلومات د امریکایي جیولوجیستانو یوې وړې ډلې او د امریکا د دفاع وزارت چارواکو د هغو معلوماتو پر بنسټ ترلاسه کړي دي، چې د پخواني شوروي اتحاد له خوا د افغانستان د اشغال په کلونو کې د شوروي کار پوهانو له خوا برابر شوي وو.

دا معلومات افغان جیولولوجیستانو د تنظیمي جگړو پرمهال په خپلو کورونو کې ساتلي وو څو زیان ورته وانه وړي، خو په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د رژیم له پرزېدو وروسته یې بېرته سره یوځای کړل.

د کانونو وزارت یوه پخواني کارکوونکي انجنیراحمدهژبر نیویارک ټایمز ته ویلي، چې د دې کانونو نقشې موجودې وې خو د ډېرش پنځه دیرش کاله جگړو له امله کار نه و پرې شوی.

ورځپاڼه زیاتوي، چې امریکایي چارواکو په دې وروستیو کې ولسمشر حامد کرزي ته هم په دې اړه معلومات ورکړي دي.

په وروستیو کې افغانستان د د لوگرد عینکو د مسو کان د استخراج ترون له چین سره لاسلیک کړ.چینایي کمپنۍ لېواله دي چې د حاجي گک د وسپنې کان هم په تېکه واخلي.

د پینټاگون مقامات وایي د غزني په یوه سیمه کې د دوی لومړنی پلټنې ښیي چې په دې سیمه کې د بولیویا په اندازه لیتیوم lithium موجود دي چې اوس د نړۍ د لیتیمو ترټولو لوی هیواد گڼل کېږي.

د جیالوجستانو په وینا لکه څرنگه چې سعودي عربستان د تېلو ستر صادروونکی دی کېدای شي افغانستان د لیتیومو دومره لوی صادروونکی شي.

جیالوجستان وایي چې د افغانستان معدني او طبیعي زېرمې تر هغه څه خورا زیاتې دي چې دوی اټکل کاوه.

د امریکا د دفاع وزارت او جیالوجیستانو په دې کله څېړنه کې دا هم ویل شوي چې تراوسه پورې د نړۍ د وسپنې او مسو ترټولو سترې زېرمې په افغانستان کې موندل شوي او کېدای شي افغانستان د نړۍ د مسو او وسپنې ترټولو سترصادروونکی شي.

څېړنې وایي چې اکثره مهمې کاني زېرمې د افغانستان په جنوبي ولایتونو کې موندل شوي چې ناکراری پکې زیاتې دي.